# باچا خان رح
# او د پښتنو فکري پاڅون

ډاکټر فضل الرحیم مروت

باچا خان رح چې په کومه سیمه (چارسده) کښې سترګې پرانستې هغه د انګرېز استعمار لاندې وه او د نولسمې پېړۍ د انګرېزانو د افغان یا پښتون زمکې وېش کۀ یو خوا جدید افغانستان د سمندر سره د پولې نشتوالے Land locked وۀ نو له بله خوا له آمو نه تر اباسینه پورې ټوله سیمه د یو اځے والي Isolation تورو تیارو کښې پټه وه. انګرېز استعمار د سازشونو په وجه ټوله سیمه کښې خپل زوړ حکمت ((نااتفاقي پېدا کړه او حکومت وکړه)) یعنې Divide and Rule طریقۀ کار خپل کړے وۀ. دا نا اتفاقي صرف د هند د نیمې وچې (برصغیر پاک او هند) مسلمان او هندو یا سکھ په مینځ کښې نۀ وه بلکې ټولو مسلمانانو کښې د شیعه، سُني، دېوبندي، برېلوي او احمدي په نوم وه او څنو سیمو کښې د بندوبستي پښتون اولس او قبائلي پښتون په نوم ئې هم دوام لرلو.

په لنډو ټکیو ټول افغانان یا پښتانۀ د سیاسي، فکري، ذهني، معاشي جمود ښکار وو. دوي کښې د خپل شناخت یا پرمختګ جذبې سړې شوې وې خو له خوش بختۍ په **1919** کښې کۀ یو طرف ته غازي امان الله خان د افغانستان باچا کېدو سره خپل استقلال تر لاسه کړو او هغه جمود او سیاسي بېلتون ئې مات کړو نو ورسره ورسره ئې د جدیدیت بنیاد هم کېښودۀ. کوم ته چې زۀ ((امان ازم)) وایم. دا نظام په پینځو ستنو Pillars ولاړ وۀ.

- اسلام
- استقلال
- جدیدیت
- مشروطیت
- ډېموکراسي

غازي امان الله خان غوښتل چې ټول پښتو ویونکي خلق د افغانستان سره یو ځائے شي او د پان افغان Pan-Afghanic خیالات د هغۀ د ټولو پالیسو بنیاد وۀ.

په کوزه پښتونخوا کښې د ټولو سیاسي او اقتصادي پېښو او ستونزو سره سره د انګرېزي استعمار د پالیسو جواب د درې اړخیزه مبارزو په شکل کښې څرګند شو.

❖ یو طرف ته وسله واله مبارزه: چې حاجي صاحب د ترنګزو ورته مجبور کړے شوے وۀ او بیا حاجي مرزا علي خان فقیر اېپي د ازادۍ بېرغ اوچت کړو.

❖ سوشلسټ/مارکسټ مبارزه: چې په سر کښې ئې کاکاجي صنوبر حسېن مومند، اسلم خان مومند شهید او مولانا عبدالرحیم پوپلزے ولاړ وو.

❖ د عدم تشدد مبارزه: چې د مولانا فضل محمود مخفي صاحب، باچا خان رح او خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي په مشرۍ کښې شروع شوه.

په دې ټولو مبارزو او تحریکونو کښې د باچا خان رح خدائي خدمتګار تحریک په سائنسي بنیادونو بنا شو او دغه وجه وه چې په ټوله کوزه پښتونخوا کښې دا تحریک ډېر زر خور شو. د خدائي خدمتګار تحریک د ختمولو دپاره یو داسې جال خور شو چې هغې کښې یو طرف ته برطانوي استعمار ولاړ وۀ او بل خوا د انګرېز پلویان خانان او جاګیرداران او دریمه طبقه پکښې انګرېز پلوه مُلیان او پیران شامل وو. باچا خان رح یو خوا د خارجي سپین انګرېز مقابله کوله او بل خوا ئې د هغو ټولو داخلي او مقامي قوتونو مقابله کوله چې ځانونه ئې د اولس د مشرتابۀ په قطار کښې شمېرل.


فقیر اپي

ډاکټر پروفېسر عبدالکریم خان خپل ناچاپه پي ایچ ډي مقاله کښې د خدائي خدمتګار په باره کښې لیکي چې:

((انګرېزي تاریخ نویسانو خدائي خدمتګاران جنجالیان Trouble makers ګڼل. د مسلم لیګ پرورده پاکستاني دانشورانو هغوي غداران، کانګرسیان، پښتونستانیان د هندوانو ملګري او ماسکو نواز بلل. د خپلې صوبې سوشلسټانو خدائي خدمتګارو ته د سرمایه دارانو د ټولګي په حېث کتل. ډېرو هندوانو ته خدائي خدمتګاران مسلمانان او ډېرو مسلمانانو ته دوي هندوان ښکارېدل خو باچا خان رح یوه نوې ورورولي راوسته چې هغه د اسلام په تعلیماتو د پښتون کلتور او انسانیت اصولو باندې ولاړه وه چې خدمت پکښې قرباني، صبر او عفو پکښې د تصور په توګه نۀ بلکې په عملي توګه شامل وو.))

لکه وړاندې ووئیلي شو کوزه پښتونخوا کښې سیاسي، فکري، ذهني او معاشي جمود او بېلتون دپاره باچا خان رح او د هغۀ ملګریو چې کوم کار وکړو هغه د سرو زرو په اوبو لیکل پکار دي. باچا خان رح او د هغوي ملګریو یو داسې انقلاب راوستل غوښتل چې پکښې دې د فرانس او روس په شان وینه هم توئې نۀ شي، منافرت هم خور نۀ کړي او اتفاق هم راولي. خدائے بخښلي باچا خان رح د افغانستان ډیموکراتي ګوند د خپل وخت مشرانو نور محمد ترکي، حفیظ الله امین او ببرک کارمل ته وئیلي وو چې:

((انقلاب د اوبو د سېلاب په شان دے. ژوندي او ویښ قومونه اوبو ته بندونه جوړ کړي، پاخۀ ډېمونه جوړ کړي او د سېلاب اوبۀ په کار راولي خو چې کوم قومونه اودۀ او بې اتفاقه وي هغه د سېلاب اوبۀ د خشاک په شان له ځانه سره یوسي.))

خو افسوس چې څنګه مُلا د باچا خان رح خبره وانۀورېده دا شان د خلق ډیموکراتي ګوند

مشرانو هم د ثور انقلاب 1978 د يو چپ لاسي انقلاب په توګه په افغانستان کښې راوست خو هغه انقلاب د مختلفو وجوهاتو په بنا تباهي، بربادي او بې اتفاقي راوسته او عجيبه خبره خو دا ده چې د ثور انقلاب صرف افغان اولس نه بلکې خپل انقلابي بچيان هم وخوړل او لا تر اوسه د افغان او پښتون په زمکه اور بل دے.

د باچا خان د تحريک په وجه په کوزه پښتونخوا کښې ټول اولس ته معاشرتي برابري حاصله شوه. د مثال په توګه لوهارانو، ترکاڼانو يعني ټولو کسب ګرو ته خلقو په ټيټ نظر کتل خو د خدائي خدمتګار تحريک کښې د هغوي نه سالاران او جرنېلان جوړ کړے شول او دوي ته ئې د خپل حق غوښتلو چل وښودلو او د خپل حق ګټلو دپاره ئې په خپله ژبه پښتو کښې مبارزه شروع کړه او د دې مبارزې شروع ئې د علم نه وکړه او خپل ازاد سکولونه ئې جوړ کړل چې پکښې د علم سره سره د کسب ښودل هم شروع شو.

بل پله ئې د سياسي شعور د بېدارۍ دپاره د پښتو ژبې خپله مجله ((پښتون)) شروع کړه چې نهٔ صرف اولس د خپل چاپېرچل نه خبر کړي بلکې د نړۍ حالاتو باندې به هم دې مجله کښې مسلسل مقالې او مضامين چاپ کېدل او خورېدل.

پښتنو د اقتصاد (کاروبار) نه هم ځان لرې ساتلو ځکه چې دکان کول يا کاروبار کول پښتنو د هندوانو پېشه ګڼله خو باچا خان په خپله دا روايت مات کړو او دکان ئې پرانستو. نورو پښتنو چې دا وکتل چې د باچا خان غوندې سړي دکان پرانستے دے نو د دوي هم کاروبار او اقتصاد ته پام شو.

بله دا چې کله باچا خان په 1929 کښې ((پښتون)) مجله شروع کړه نو هغه صرف او صرف په پښتو ژبه کښې وه. دې سره ئې نهٔ صرف دا چې د پښتون شناخت دپاره پکښې مضامين چاپ کېدل بلکې په هره بين المللي مسئله به هم پکښې مقالې چاپ کېدلې. دې مجلې سره پښتنو شاعرانو، اديبانو او ليکونکيو ته يوه نوې موقعه په لاس ورغله او په ليکونکيو کښې صرف سړي نهٔ بلکې ښځې هم شاملې وې او پښتو ادب دغه وخت ډېر انقلابي پرمختګ وکړو. ((پښتون)) رساله صرف په کوزه پښتونخوا کښې نهٔ خورېده بلکې افغانستان ته هم تلله او هلته غازي امان الله خان په خپله ټولو خلقو ته د مجلې د لوستو تاکيد کولو.

د باچا خان او خدائي خدمتګارانو قېدوبند سره سره په ((پښتون)) مجله هم ډېر ځله پابندۍ ولګېدې خو د مجلې پېغام شاعرانو او ليکونکيو په خپلو شعرونو او د مشاعرو په ذريعه خورول شروع کړل. د دېو ټولو کوششونو برکت وۀ چې بره په افغانستان کښې د ويښ زلميانو نهضت مخې ته راغلو کوم چې عېن د ((امان ازم)) او باچا خان په فکر پورې تړلې وو بلکې د خدائي خدمتګارو تحريک غوندې ئې يو لوئے پلېټ فارم افغانانو يا پښتنو ته په لاس ورکړو. کوم چې د افغانستان سياست په شلمه پېړۍ کښې په مخ بوتلو او ښکته پښتونخوا کښې ئې هاغه سياسي جنبش راپورته کړو چې د سياست د لارې د انګرېز په دور کښې ئې هم حکومت وکړو او د خاورې د ازادۍ دپاره ئې نهٔ صرف لاره هواره او جوړه کړه بلکې په خپله خاوره د خپل اختيار په خبره تر اخره

وختـه کلـک ولاړ وو  چې د ورورولـۍ او اتفـاق لار صرف او صرف علم، تعلیم او عدم تشدد دے او د ټولو نه لویه خبره دا چې یو کلیوال تحریک ئې د کلو نه ښاریو تـه وغزولـو او بیـا ئـې پـه ټـول هنـد وپېژنـدو او دغـه رنـګ ئې عـالمي رنـګ او شـکل واخستو.